$(d)$ د $AC$او$BD$ قطرونه په قايمه الزاويه کې يود بل نيمايي د




(۱ -۲۵ ) شکل




شکل(۲۵-۲)




شکل (۲۵-۳)




شکل(۲۵-۴)




شکل (۲۵-۵)




شکل (۲۵-۶)

ذوزنقه: د EFGH ذوزنقه چې په (25,6) شکل کې ښودل شوی ده($a$) يواځې دوه ضلعی يی سره مساوی دی

1.پوښتنه: په ( 25 .7 ) شکل کې د څلور ضلعي اقسام درکړل شوي دي،تاسي يې هر يومشخص کړی او د درکړل شوو زاويو اندازه وټاکئ




شکل (۲۵-۷)

($a$) ABCD يوه مربع ده.

څرنګه چې د مربع قطرونه هره قايمه زاويه په دوه مساوي برخو تقسيموي نو

$$a = \frac{90°}{2} = 45°$$

$(b)$ $EFGH$ یو مستطیل دی.

د $FGH$ په مثلث کې $40^\circ + 90^\circ + b = 180^\circ$ ځرنګه چې د مثلث د داخلي زاویو مجموعه $180^\circ$ده،نو $\hat{b} = 50^\circ$ همدارنګه $\hat{c} = 40^\circ$ او $\hat{d} = 90^\circ + c$ ځکه د یو مثلث د خارجي زاویې پراخوالی مساوي دی د دوه داخلي غیر مجاورو زاویو دمجموعي سره،نو $\hat{d} = 90^\circ + 40^\circ$ یا $E\hat{F}H = 50^\circ$ یا
$\hat{d} = 180^\circ - 50^\circ = 130^\circ$

$(c)$ $JKLM$ یوه لوزي ده.

د لوزي قطرونه زاویې په دوه مساوي برخوویشي او دلوزي مقابلي زاویې سره مساوي دي،پدي ډول چې $\angle JKM = \angle MKL = \angle JMK = \angle LMK = 30^\circ$ نو $e = 30^\circ$

د $KLM$ په مثلث کې $30^\circ + \angle KLM + 30^\circ = 180^\circ$ ځرنګه چې د مثلث دداخلي زاویومجموعه $180^\circ$ ده,نو $KLM = 120^\circ$ او د $JL$ قطرد $K\hat{L}M$ زاویه نیمایي کوي،نو $F = \frac{120°}{2} = 60^\circ$

$(d)$ $NOPQ$ یو متوازي الاضلاع ده ځرنګه چې د متوازي الاضلاع داخلي متقابلي زاویې سره مساوي دي،نو $B = 52^\circ$ د $NOQ$ په مثلث کې د مثلث د داخلی زاویو مجموعه 180 درجی ده $g + h + 65^\circ = 180^\circ$ نو له دې ځایه لیکلای شو چې $i = 65^\circ, h = 180^\circ - 65^\circ - 52^\circ = 63^\circ$ د NQاوOP د موازی خطونو ترمینځ زاویه ده

د یو مثلث خارجی زاویو د پراخوالی مجموعه مساوی د مثلث د داخلی مقابلو زاویو له مجموعی سره $PQO = h = 63^\circ, j = 180^\circ - 63^\circ = 117^\circ$
$j = 52^\circ + i = 52^\circ + 65^\circ = 117^\circ$

$(e)$ $RSTU$ یوه ذوذنقه ده او $35^\circ + K = 75^\circ$ د یو مثلث خارجی زاویو د پراخوالی مجموعه مساوی د مثلث د داخلی مقابلو زاویو له مجموعی سره او $K = 40^\circ$ همدارنګه د Ru او St د موازی خطونو ترمینځ زاویه ده $\angle STR = 35^\circ$ او $I = 115^\circ - 35^\circ = 80^\circ$ د یو مثلث خارجی زاویو د پراخوالی مجموعه مساوی د مثلث د داخلی مقابلو زاویو له $i + 35^\circ = 115^\circ$ مجموعی سره

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 96. تکراری پوښتنی

### د مروجه شکلونو ځوابونه په (723) مخ کې دي.

1. د $p$ او $q$ زاويي پيداکړئ( $25.8.a$ )شکل کې
2. د $r$ او $s$ زاويي پيداکړئ( $25.8.b$ )شکل کې
3. د $t$ زاويه پيداکړئ( $25.8.c$ )شکل کې




(۸- ۲۵) شکل

## 25.3 دځينومروجه شکلونو مساحتونه Areas of common shapes

د مهموهندسي شکلونه لپاره فرمولونه په( 25 .1 ) چوکات کې درکړل شوي دي اوس يوڅومثالونه وړاندي کوو چې وپوهيږو د دغه فرمولونو استعمال څنګه دی.

2. پوښتنه : په( 25 .9 ) شکل کې مربع درکړل شوي ده تاسي يې محيط او مساحت محاسبه کړي




(۹- ۲۵) شکل

د مربع مساحت= $x^2 = (4.0)^2 = 4.0cm \times 4.0cm = 16.0cm^2$

د مربع محيط= $4.0cm + 4.0cm + 4.0cm + 4.0cm = 16.0cm$

3. پوښتنه : په( 25 .10 )شکل کې مستطيل درکړل شوی دی،تاسي يې مساحت اومحيط محاسبه کړئ




(۱۰- ۲۵) شکل

### د مستوی د مساحت شکل

| | | | |
|---|---|---|---|
| Square |  | Area = $x^2$ | مربع |
| Rectangle |  | Area = $l \times b$ | مستطیل |
| Parallelogram |  | Area = $b \times h$ | متوازی اضلاع |

| | | |
|---|---|---|
| **Triangle** |  | Area $= \frac{1}{2} \times b \times h$ مثلث |
| **Trapezium** ذونقه |  | Area $= \frac{1}{2}(a+b)h$ |
| **Circle** |  | Area $= \pi r^2$ or $\frac{\pi d^2}{4}$ دایره<br>Circumference $= 2\pi r$ محیط<br>Radian measure: $2\pi$ radians $= 360$ degrees |
| **Sector of circle** |  | Area $= \frac{\theta°}{360}(\pi r^2)$ ددایري قطاع |

مساحت مستطیل د $Cm^2$ $i \times b = 7.0 \times 4.5 = 31.5$

دمستطیل محیط . $= 7.0cm + 4.5cm + 7.0cm + 4.5cm = 23.0cm$

4. پوښتنه : په 11. 25 شکل کې د متوازي الاضلاع مساحت پیداکړئ




شکل (۱۱-۲۵)

عمودی ارتفاع × قاعده = د متوازي الاضلاع مساحت

لکه څرنګه چې عمودی ارتفاع په (25,11) شکل کې نه ده ښودل لیکن مونږ کولای شو د فیثاغورث د قضیې په واسطه لاس ته راوړو، (ددی لپاره 21 ته توجه وکړئ)

$9^2 = 5^2 + h^2 \Rightarrow h^2 = 9^2 - 5^2 = 81 - 25 =$ عمودی ارتفاع => $h = \sqrt{56} = 7.48\ mm$

د56 شکل څخه پوهیږوچي



شکل (۲۵ - ۱۲)

EFGH متوازي ا لاضلاع مساحت $= 16\ mm \times 7.48\ mm = 120\ mm^2$

5. پوښتنه: د لاندی مثلث مساحت (25 .13) شکل په نظر کې نیولو سره



شکل(۲۵،۱۳)

مثلث مساحت $IJK$ د $= \frac{1}{2}$ قاعده×قاعده $= \frac{1}{2} IJ \times JK$

ددی لپاره چې JK پیدا کړو د فیثاغورث د قضیې څخه استفاده کوو.

له دی ځایه $jk = \sqrt{5.68^2 - 1.92^2} = 5.346cm$

له دی امله دمثلث مساحت مساوی دی له

$$Ijk = \frac{1}{2} \times 1,92 \times 5,346 = 5.132\ cm^2$$

6. پوښتنه: (25 .4)د شکل په نظر کې نیولو سره د ذوذنقي مساحت پیداکړئ



شکل(۲۵،۱۴)

( دموازي خطونو ترمنځ عمودی فاصله ) $\times$ (موازيدخطونو مجموع) $\times \frac{1}{2} =$ دذوذنقي مساحت

له دی امله د $LMNO$ ذوذنقي مساحت مساوي دی له

مساحت$\frac{1}{2} \times (27.4 + 8.6) \times 5.5) = \frac{1}{2} \times 36 \times 515 = 99\ mm^2$

7. پوښتنه : دیومستطیل ډوله حمام اوږدوالي $820\ mm$او پراخوالي يې $400\ mm$ دی،تاسي يې مساحت په

a. $mm^2$
b. $cm^2$
c. $m^2$سره پيداکړئ

(a). اوږدوالي × پراخوالی = دحمام مساحت $820 \times 400 = 328000\ mm^2$

(b). څرنګه چې $1cm = 10\ mm, 1cm^2 = 1cm \times 1cm = 10\ mm \times 10\ mm = 100\ mm^2$

يا $1mm^2 = \frac{1}{100} cm^2 = 0.01\ cm^2$

نو $32800\ mm^2 = 32800 \times 0{,}01\ cm^2 = 3280\ cm^2$

(c). څرنګه چې $1m = 100\ cm, 1m^2 = 1m \times 1m = 100\ cm \times 100\ cm = 10000\ cm^2$

يا $1cm^2 = \frac{1}{1000}m^2 = 0.0001\ m^2$
0

نو$3280cm^2 = 3280 \times 0.0001m^2 = 0.0328m^2$

8. پوښتنه : د يو عکس د چوکاټ خارجي اندازه $50\ cm$په $100\ cm$کي ده،که چوکاټ $4cm$پراخه وي د لرګي مساحت پيداکړئ چې نوموړی چوکاټ يې ترې جوړ کړی دی شکل نمبر (25 .15)




(۱۵ - ۲۵) شکل

دکوچني مستطيل مساحت – دلوی مستطيل مساحت = د لرګی مساحت

$= (100 \times 50) - (92 \times 42) = 5000 - 3864 = 1136\ cm^2$

9.پوښتنه:په (25.16) شکل کې يو ګاډر درکړل شوی دی مساحت يې پيداکړئ




شکل (۲۵ -۱۶)

کولای شو چې نوموړی ګاډر په درې مستطيلونو تقسيم کړو

د A مستطيل مساحت $= 50 \times 5 = 250\ mm^2$

دBمستطيل مساحت $= (75 - 8 - 5) \times 6 = 62 \times 6 = 372\ mm^2$

دCمستطيل مساحت $= 70 \times 8 = 560\ mm^2$

د ګاډر مجموعي مساحت $= 250 + 372 + 560 = 1182\ mm^2$ Or $11.82\ cm^2$




شکل (۲۵- ۱۷)

10. پوښتنه: په (25 ,17 )شکل کې د يوه بيلډينګ ځوکه ښودل شوې دی د ځوکې په اخر کې د خشت

د خشت کاری لاندنی مساحت $= 6 \times 8 = 48m^2$

$$\text{د مثلث مساحت} = \frac{1}{2} \times \text{قاعده} \times \text{ارتفاع}$$

$AC = 3m$ له دی امله $AD = 5m$ او $CD = 4m$

$د\ مثلث\ مساحت = ABD = \frac{1}{2} \times 8 \times 3 = 12\ m^2$

$د\ خشت\ کاری\ ټول\ مساحت = 48 + 12 = 60\ m^2$

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 97 . تکراری پوښتنی

### د مروجه شکلونو مساحتونو ځوابونه په (723) مخ کې دي.

1. په $(i)(18.25)$شکل کې څلورضلعي ګاني درکړل شوي دي،تاسې يې ونوموی او بيا يې مساحتونه او محيطونه پيداکړئ؟




(iv) شکل (۱۸-۲۵)

2. د يو مستطيل ډوله پليټ اوږدوالی $8.5mm$او پراخوالی يې $42\ mm$ دي،تاسې يې مساحت پيداکړئ په $cm^2$ سره
3. د يو مستطيل ډوله ميدان مساحت $1,2$هکتاره دی او اوږدوالی يې $150\ m$ دی که يو هکتار $10000\ m^2$ وي،نو (a)د پټي پراخوالي او(b) د قطر اوږدوالی يې پيداکړئ
4. دهغه مثلث مساحت پيداکړی چې قاعده يې $8.5cm$اوعمودی ارتفاع يې $6.4cm$وي
5. د يو مربع مساحت $162\ cm^2$ دی،تاسې يې قطر پيداکړئ
6. د يو مستطيل ډوله عکس مساحت $0.96\ m^2$ دی،که ديوطرف اوږدوالي يې $800\ mm$وي،د بل طرف اوږدوالي يې پيداکړئ
7. په $(25.19)$ شکل کې د هرې زاويې اندازه پيداکړئ



(a) شکل (۲۵- ۱۹) (b)

8. یو باغ چې پراخوالی یې $41\ m$ په $37\ m$ کې وي دهغه په خارجي ساحه کې یوه لاره موقیعت لري چې پراخوالي یې $4\,m$ دي،تاسي دلارې مساحت پیداکړئ؟ ( $25\ ,20$ ) شکل کی



شکل (۲۵- ۲۰)

9. د یوې ذوذنقي مساحت $13\ .5cm$ ده او دموازي اضلاعو ترمنځ یې عمودي فاصله $3cm$ده که د یو موازي ضلعي اوږدوالي یې $5.6\,cm$وي د بلې موازي ضلعي اوږدوالی یې پیداکړئ

10. په $(25\ .21)$ شکل کې یو فولادي لوحه درکړل شوې ده مساحت یې پیداکړئ



شکل (۲۵- ۲۱)

11.که د یو متساوي الاضلاع مثلث یو ضلعه $10.0 cm$ وي،تاسي یې مساحت پیداکړئ

12. د موزایکو یوه تخته چې مربعي شکل لرې اوهره ضلع یې $250\ mm$ده نوتاسي د $2m^2$ مساحت دپوښلو لپاره دموزایکو تعداد معلوم کړئ

دلته عمومي شکلونه دمساحت دپیداکولو لپاره په څو پوښتنو کارشوی دی .

11. پوښتنه : د هغه دایرې مساحت پیداکړئ چې شعاع یې $5cm$ وي

د دایر مساحت $= \pi r^2 = \pi(5)^2 = 25\pi = 785.4$ cm2

12. پوښتنه : که د یوي دایري قطر $15\ mm$ وي،مساحت یې پیداکړئ

د دایرې مساحت $= \frac{\pi D^2}{4} = \frac{\pi(15)^2}{4} = \frac{225\pi}{4} = 176.7$ mm2

13. پوښتنه : که دیوې دایرې محیط $70\ mm$وي،مساحت یې پیداکړئ

ددایرې محیط$= 2\pi r$

د دایرې شعاع $r = \frac{c}{2\pi} = \frac{70}{2\pi} = \frac{35}{\pi} =$ mm

د دایرې مساحت $= \pi r^2 = \pi \left(\frac{35}{\pi}\right)^2 = \frac{35^2}{\pi} = 389.9 mm^2 or\ 3.899\ cm^2$

14. پوښتنه : که د یوې دایرې شعاع $6cm$ وي او د قطاع سره $50°$ زاویه جوړه کړي د قطاع مساحت پیداکړئ

د قطاع مساحت $= \frac{\theta°}{360°}\pi r^2 = \frac{50°}{20}\pi r^2 = \frac{0,01745 rad 36}{2} = 15.71 cm^2$

15. پوښتنه : که د یوې دایرې قطر $80\ mm$ او قطاع سره $107°42'$زاویه جوړه کړي،نو دنوموړې دایرې د قطاع مساحت پیداکړئ

$d = 80\ mm \Rightarrow r = \frac{80mm}{2} = 40\ mm$

دقطاع مساحت $= \frac{107°\ 42'}{360}(\pi\ 40^2) = \frac{107\frac{42}{60}}{360}(\pi\ 40^2) = \frac{107.7}{360}(\pi\ 40^2) = 1504\ mm^2$

یا $15,04\ cm^2$

16. پوښتنه : په (25.22 )شکل کې یوه مینځ خالي میله درکړل شوي ده چې خارجي قطر یې $5.45\ cm$دی او داخلي قطر یې $2.25\ cm$دی، تاسي یې د عرضي مقطع مساحت پیداکړئ



شکل (۲۲-۲۵)

دکوچنی دایرې مساحت – دلویې دایرې مساحت= دهغه ساحې مساحت چې په توروکرښوسره ښودل شوی دی

$$\text{د عرضی مقطع مساحت} = \frac{\pi D^2}{4} - \frac{\pi d^2}{4} = \frac{\pi}{4}(D^2 - d^2)$$

$$= \frac{\pi}{4}(5.45^2 - 2.25^2) = 11.5767cm^2$$

=

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 98. تکراری پوښتنی

### د مروجه شکلونو مساحتونو ځوابونه په (724) مخ کې دي.

1: یو مستطیل شکله باغ چه اندازه یې 40متر او 15متر ده د ګلونو یوه برخه له دووکوچنیو او یواوږدې برخې څخه جوړ شوې دلامبو دایروي حوض د باغ په مینځ کې جوړ شوی ده چې قطر یې 8متر دی،نو پاتی مساحت یې په $m^2$ سره پیداکړئ

2 : د یوی دایرې مساحت پیداکړئ (a)په داسی حال کې چې شعاع یې $4cm$وي او(b) قطر یې $30\ mm$ وي(c) او محیط یی 200mm دی.

3: پوښتنه. یو متحدالمرکز چې خارجی قطر یې 60mm دی او داخلی قطر یې 20mm دی مساحت یې پیدا کړئ.

4: د یوی دایری مساحت $320\ mm^2$ دی د هغی قطر او محیط پیداکړی

5: د لاندی دایری د قطاع مساحت پیداکړی پداسی حال کې چه

(a): شعاع $9cm$ او مرکزی زاویه یې $75°$ وی

(b): قطر $35\ mm$او مرکزی زاویه یې $(48°37')$

6 : د سیوری لرونکي قالب مساحت پیداکړی چه په لاندی شکل کي ښودل شوی دی




شکل (۲۵- ۲۳)

7 : یو قوس چه د مستطیل چه سر د یو نیمه دایری یي قوس چه په (25,24) شکل کي ښودل شوی ده پیداکړی مساحت یي په لاس راوړی که چېری عرض $1m$ او ارتفاع یي $2m$ وی




شکل (۲۵- ۲۴)

**17.** پوښتنه: په (25 .25) شکل کي یو منظم اته ضلعي درکړل شوي ده ارتفاع یي $12\ cm$ ده او هره ضلعه یي $5cm$ ده تاسي یي مساحت پیداکړي؟

8 ضلعی یو ځو ضلعی ده که چیرته دهغه مرکز څخه دهغه په ځوکو باندی شعاع ګانی رسم کړونو 8 مساوی مثلثونه په لاس راځی کوم چي (25,25) شکل کي ښودل شوی.

$$\text{د مثلث مساحت} = \frac{1}{2} \times \text{قاعده} \times \text{ارتفاع} = \frac{1}{2} \times 5 \times \frac{12}{2} = cm^2$$

د اته ضلعي مساحت $= 8 \times 15 = 120\ cm^2$



شکل (۲۵- ۲۵)

**18.**پوښتنه: په ( 25 .26 )شکل کې يو منظم شپږ ضلعي درکړل شويده چې هره ضلعه يې $8cm$ ده مساحت يې پيداکړي

شپږ ضلعی يو څو ضلعی ده چې شپږ ضلعی لری چې مونږ کولای شو چې دغه شپږ ضلعی په شپږو مساوی مثلثونو باندی وویشو کوم چې د هری زاويی د مرکز څخه $60^\circ$ ده د مثلث د نورو دوو زاويو مجموعه 120درجی ده نو له دی ځايه څخه ويلی شو چې هر د مثلثونو څخه 60 درجی زاويه لری او دهری ضلعی اوږدوالی 8cm دی نو د مثلثونو متساوی الاضلاع دی.



شکل (۲۵ -۲۶)

دمثلث مساحت = $X\frac{1}{2}$ قاعده × ارتفاع= $\frac{1}{2}$ X 8 X h

د فيثا غورث د قضيي په اساس$(14cm)^2 + h^2 = (18cm)^2 \Rightarrow h = \sqrt{64cm^2 - 16cm^2}$

$= 6.928cm$

د يو مثلث مساحت =$\frac{1}{2} \times 8 \times 6.928 = 27.71cm^2$

د مسدس مساحت $= 6 \times 27.71 = 166.3cm^2$

**19.**پوښتنه: ( 25 .27 )شکل د يو تعمير ساحه ښايي چې بايد د قالين پواسطه پوښ شي تاسي ددغه ساحي مساحت په $m^2$ سره پيداکړي که د يو $m^2$ قالين قيمت £16.80وي نو د څو پيسو قالين ته ضرورت دي ( د قالين د پوخ کولو په وخت کې $30\%$ قالين ضايع کېږي




(۲۷-۲۵) شکل

نمایی دایرې مساحت $ABC$ +مثلث مساحت = د ساحې مساحت

ذوذنقې مساحت– $CDEF$ HIJKمستطیل مساحت + مستطیل مساحت CGLM

ABC يو متساوی الاضلاع مثلث دې نو $AB = BC = 3m$ نو له دې ځایه $B'CB = 60^{\circ}$

$\sin B'CB = BB'/3 \Rightarrow BB' = 3\sin 60^{\circ} = 2.598\ m$

مثلث مساحت $ABC$ د$= \frac{1}{2}(3)(2.598) = 3.897\ m^2$

د نیمې دایرې مساحت $= \frac{1}{2}\pi r^2 = \frac{1}{2}(2.5)^2 = 9.817\ m^2$

مساحت $CGLM$ د $= 5 \times 7 = 35\ m^2$

مساحت $CDEF$ د$= 0.8 \times 3 = 2.4m^2$

HIJK $HIJK$ $\frac{1}{2}(KH + IJ)(0.8)$ =مساحت

څرنګه چې $MC = 7m$ نو $LJ = 7M$ او $IJ = 7 - 5.2 = 1.8m$

مساحت$HIJK$ د $= \frac{1}{2}(3 = 1.8)(0.8) = 1.92\ m^2$

دټولې ساحې مساحت $= 3.897 + 9.817 + 35 + 24 - 1.92 = 49.194\ m^2$

د 30 % ضایع کېدو لپاره $= 1.3 \times 49.194 = 63.95\ m^2$

خرنګه چې د یو متر مربع قالین قیمت  80. 16؋   دي نو د ټولي قالین قیمت عبارت دي له

$63.95 \times 16.80 = 1074$؋

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 99. تکراری پوښتنی

### د مروجه شکلونو مساحتونو جوابونه یی (724) مخ کې دی.

1 : که چیړي دیومنظمي اته ضلعي دهري ضلعي اوږدوالی $20mm$ او سراسر عرض یې $48.3mm$ وي نو تاسي دنوموړی اته ضلعي مساحت په لاس راوړئ

2 : که دیو منظمي شپږ ضلعي هره ضلع $25mm$ وي تاسی یې مساحت پیداکړئ

3 : په 25,28 شکل کې دځمکی په سطح دیومیدان شکل درکول شویدی تاسی

$(a)$ مساحت یې په هکتار سره محاسبه کړئ $(1ha = 10^4 m^2)$

$(b)$ څومره کتاري ته ضرورت دی چې نوموړی میدان په مکمل ډول احاطه کړي




(۲۸ -۲۵) شکل

## 25.4 د مشابه شکلونو مساحتونه Areas of similar shapes

په (25.29) شکل کې یو مربع درکړل شوي ده چې دري په دریو کې مساوي مربع ګانو باندي تقسیم شوي ده

د $(25.29)a$ شکل مساحت $= (x)(x) = x^2$

شکل مساحت $(25.29)b$ د= $(3x)(3x) = 9x^2$



شکل (۲۵ -۲۹)

د (25.29) شکل ځخه لیدل کیږی چې مساحت یی $3^2$ دی ددی لپاره چې ددی ټول مساحت په لاس راوړو 9 چنده د راکړل شوی مساحت سره مساوی دی.

په خلاصه توګه ویلی شو چې د مشابه شکلونو مساحتونه متناسب دی د بعدونو د مربعګانو سره

**20.** پوښتنه: د یو مستطیل ډوله ګراج بعدونه $10\ mm$ په $20\ mm$ کې دي که یوه متناسبه سطحه یې تر 250 پوري رسم شوي وي تاسي د ګراج مساحت په $m^2$ سره پیداکړي

دګراج مساحت= $10\ mm \times 20\ mm = 200\ mm^2$

څرنګه چې د مشابه شکلونه مساحتونه متناسب دي د مطابق بعدونو د مربع ګانو سره نو

د ګراج درست مساحت= $200\ (250)^2$

د ګراج درست مساحت= $12.5 \times 10^6\ mm^2$

د ګراج درست مساحت= $\frac{12.5 \times 10^6}{10^6} m^2$

همدارنګه نو $1m^2 = 10^6 mm^2 = 12.5m^2$

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

# 100. تکراری پوښتنی

## د مشابه شکلونو مساحتونو ځوابونه په (724) مخ کې دي.

1: په یو نقشه کې د پارک مساحت $500\ mm^2$ دی که چیرې درجه بندي د نقشی د 1 څخه تر 40000 د پارک اصلي مساحت دی په هیکتار سره يې محاسبه کړئ

$1 hectare = 10^4 m^2$

2. یو فیلم ایشونکي یو بالاپوش لري او لوړوالی $75\ mm$ دی مشابه د یو بل بالاپوش چه لوړوالی يې دحقیقی ایشونکي $6m$ دی که چیرې مساحت د غوښتل شوي فلز د $12500\ mm^2$ وي،نو په متر مربع باندې د غوښتل شوي فلزي اصلي بالاپوش مساحت پیداکړئ

3. درجه بندي د یوې نفوس شماري د سروې په نقشه کې $1:2500$ دی او نقشه کې د یوې دایرې سپورت ساحی قطر $8cm$ دی مساحت يې په هکتار سره تر 3 معنی داره ارقامو پورې محاسبه کړئ

$$1hecare = 10^4 m^2$$

# شپږویشتم څپرکی
# The Circle دایره

## 26.1 پیژندنه Intraduction

دایره هغه مسطح شکل دی چې دیوې منحني پواسطه تړل شویدی داخلي یوی نقطي څخه مساوي فاصله لري. اودغه داخلي نقطه دمرکزڅخه عبارت ده.په (25)څپرکي کې موددایرې اودهغه دقطاع مساحتونه وپیژندل ،پدې څپرکېکې به ددایرې خصوصیات دقوس اوږدوالي اودقطاع په باره کې عملي مثالونه وړاندې کړو اوپه اخرکې به ددایرې معا دله بیان کړو.

## 26.2 ددایرې خصوصیات Properties of Circles

$(a)$دمرکزڅخه ترمنحني پورې فاصله ددایرې دشعاع $(R)$ څخه عبارت ده، لکه $(26-1)$ شکل کې $OP$



(۱-۲۶) شکل

$(b)$ددایرې سرحد دمحیط څخه عبارت دی.

$(c)$که یومستقیم خط دمرکز څخه تیراو دمحیط سره وصل شوی وي عبارت دقطر څخه دی لکه $(26-1)$ شکل کېRQ په دې ډول $d=2r$.

$(d)$محیط: دمحیط لپاره یوثابت نسبت دی چې دغه ثابت قیمت قطردیوناني توري $\pi$ په واسطه ښودل کېږي $\pi=3.14159$درست ځواب یې ترپنځمې اعشاري خانې پورې دی پخپل حساب ماشین کې یې وازمائي لدې ځایه $c=2\pi r$ یا $c=\pi d$ یا $\frac{c}{d}=\pi$

$(e)$نیمه دایره دټولې دایرې دنمیائي برخې څخه عبارت ده.

$(f)$یوربع دمکملې دایرې څلورمې برخې ته وائي.

$(g)$ددایرې مماس یومستقیم خط دی چې دایرې سره صرف په یوه نقطه کې تماس کوي او دایره نه قطع کوی لکه $(26-11)$شکل کې چې منحني سره یوازې $AC$ یومماس وي چې منحني سره یوازې د $B$ په نقطه کې مماس دی که چیرې د $OB$شعاع رسم شي نو $ABO$ به یوه قایمه زاویه وي.

$(h)$ددایرې قطاع دشعاعگانو منځنی برخې څخه عبارت ده مثلاً په $(26-2)$شکل کې $OXY$برخه کې قطاع له نیمایي دایرې څخه کمه وي،نو هغه ته اصغري قطاع اوکه چیرې له نیمايي دایرې څخه زیاته وي هغه ته اعظمي قطاع وائي.



(۲- ۲۶) شکل

$(i)$**ددايــرې قطــر:** ددايرې قطـر چــې دايـره پــه دوه برخــو ويشــي او دمحــيط لــه دوه نقطــو سره وصل وی لکه: $(26-1)$شکل کېQR.

$(j)$ **ددايــرى وتــر**. يــو مســتقيم خــط دى چــې دوترپواسـطه دايـرې څخــه جداشــوى وي.کــه قطعــه خـط لــه نيمـايي دايـرې څخـه کمـه وي نـو اصـغري قطعـه اوکـه لـه نيمـايي دايـرې څخـه زياته وي عبارت له اعظمي قطعي څخه ده.

$(k)$**قــوس ددايــرى.** ددايــرې دمحــيط يــوه برخــه ده لکــه $(26-2)$شــکل کــې $SRT$ داصغري قوس او sxyt عبارت له اعظمي قوس څخه دی.

$(l)$ هغـه زاويـه چـې ددايـرې پـه مرکزکـي دقـوس پواسـطه جـوړيږي دوه چنـده دهغـه زاويـې ده چــې دهمــدې قــوس پواســطه پــه محــيط کــې جــوړيږي لکــه پــه $(26-3)$ شــکل کــې.

زاويه$ABC$ زاويه$Aoc = 2ABC$



(۳- ۲۶) شکل

$(m)$کومـه زاويـه چـې پـه نيمـايي دايـره کـې تشـکيليږي هغـه تـه بوقايمـه زاويـه وايـي لکـه پـه $(26-3)$ شکل کې د $BQP$ زاويه.

**1. پوښتنه:** که ديوې دايرې شعاع $12\ cm$ وي محيط يې پيداکړئ

محيط $c=2\pi$ شعاع$=2\pi r = 2\pi(12.0) = 75.40\ cm$

**2. پوښتنه:** که ديوې دايرې قطر $75\ mm$ وي محيط يې محاسبه کړئ

محيط $c=2\pi$ قطر$=\pi d = \pi(75) = 235.6\ mm$

**3. پوښتنه :**دیودایروي ډنډ شعاع پیداکړئ که محیط یې $112\ m$ وي
C=2$\pi$r ،محیط=چاپیریال
لدې ځایه دډنډشعاع عبارت ده له $r=\frac{c}{2\pi}=\frac{112}{2\pi}=17.83\mathrm{mm}$

**4. پوښتنه :**په $(4-26)$شکل کې $AB$ خط د $B$په نقطه کې له دایرې سره مماس دی که ددایرې شعاع $40\ mm$ اود $AB$ اوږدوالی $150mm$ وي،نود $AO$ اوږدوالی پیداکړئ



شکل (۴-۲۶)

که ددایرې شعاع رسم کړودمماسسره قایمه زاویه جوړوي لکه $ABO90^0$
لدې ځایه دفیثاغورث د قضیې په اساس:

$$AO^2=AB^2+OB^2$$

لدې ځایه $\mathrm{Ao}=\sqrt{\mathrm{AB}^2+\mathrm{oB}^2}$

$$=\sqrt{150^2+40^2}=155.2\mathrm{mm}$$

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 101. تکراری پوښتنی

### د دایرې خاصیتونو ځوابونه په (724) مخ کې دي.

1: که شعاع د یوی دایرې $7.2cm$ وي،نو تاسې یې محیط پیداکړئ

2: که چېرې قطرد یو دایرې $82.6mm$ وي،نو محیط یې محاسبه کړئ

3:که چېرې د یو دایرې محیط $16.52cm$ وي،نو شعاع یې پیداکړئ

4:د یوې دایرې قطر پیداکړی که محیط یې $149.8cm$ وي

5: د ماشین یوه پرزه په $(5-26)$ شکل کې ښودل شوی ده د $XY$ فاصله د $\tan$ له مخې ځخه پیداکړئ که چیرې د دایرې شعاع $10cm$ وي او د oy اوږدوالی $40cm$ وي،نو تاسې د xyوصل کونکې میلې اوږدوالی پیداکړئ



شکل (۵- ۲۶)

6.که چېرې د يو ځمکي محيط $40000km$ وی،نو قطر يې محاسبه کړئ

7. په ملی متر سره به کاغذ کې د ځای په ځای شوي وتراوړدوالی محاسبه کړئ




(۶- ۲۶) شکل

## 26.3راديان اودرجه Radians and degrees

**۱- ديو راديان تعريف:** دهغه زاويې په شان دی چې ددايرې په مرکز کې ديو قوس په واسطه جوړيږي اودقوس اوږدوالی دشعاع سره مساوي وي لکه (26 − 7) شکل کې د S قوس اوږدوالي لپاره:

$\theta$راديان $= \frac{s}{r}$




(۷- ۲۶) شکل

کله چې S ټول محيط وي ($S=2\pi r$) نو :

$\theta = \frac{s}{r} = \frac{2\pi r}{r} = 2\pi$

$2\pi$ راديان= 360 ° يا $\pi$ راديان =180 °

$= 57.30^o$ $\frac{180}{\pi}$ = راديان ددوهمي اعشارې پورې درست دی.

پوهيږو چې

$\pi \text{ rad} = 180°$ نو $\frac{\pi}{2} = 90° \frac{\pi}{3} = 60°, \frac{\pi}{4} = 45°$

5. پوښتنه راديان ته يې واړوئ؟ (b)69°47(a)125°

پوهيږوچې :

$180° = \pi\, \text{rad}, 1° = \frac{180°}{\pi}\ \text{rad}$

(a)نوځکه رادیان$125° = 125° \left(\frac{\pi}{180°}\right) \text{rad} = 2.182$

$(b) 69°47^{`} = 69\frac{47}{60} = 69.783°$

یا یې په خپل حساب ماشین کې 69°47’ داخل کړی اوله درجه وهو بیا دوباره درجه وهو

$69.783° = 69.783 \left(\frac{\pi}{180°}\right) \text{rad} = 1.218 \text{radians}.$

**6. پوښتنه :**درجې او دقیقې ته یې واړوئ

$(a) 0.749 \text{radians} (b)\ {}^{3\pi}/_{4}\ \text{radians}$

$\pi\ \text{rad} = 180°, 1\text{ard} = \frac{180}{\pi}$ (a)پوهیږو چې

لدی ځایه$0.749\text{rad} = 0.749(\frac{180}{\pi})^{o} = 42.915^{o}$

$0,915°(0,915.60^{´}) = 55^{´}$

55\` تقریبي ځواب دی.

نو $0,749\text{radians} = 42°55^{`}$

(b)ځرنګه$1\ \text{red} = (\frac{180}{\pi})°$ نو

$\frac{3\pi}{4}\text{rad} = \frac{3\pi}{4}\left(\frac{180^{o}}{\pi}\right) = \frac{3}{4}(180)° = 135°$

**7. پوښتنه:** دπ له جنسه یې په رادیان واړوئ

$(a) 150° \quad (b) 270° \quad (c) 37.5°$

ځرنګه چې $180° = \pi\text{ed}\,, 1° = \frac{\pi}{180}\ \text{rad}$

$$(a) 150° = 150\left(\frac{\pi}{180}\right)\text{rad} = \frac{5\pi}{6}\ \text{rad}$$

$(b) 270 = 270^{o}\left(\frac{\pi}{180}\right)\text{rad} = \frac{3\pi}{2}\ \text{rad}$

$(c) 37,5° = 37,5\left(\frac{\pi}{180}\right)\text{rad} = \frac{75\pi}{360}\ \text{rad} = \frac{5\pi}{24}\ \text{rad}$

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 102. تکراری پوښتنی

### د رادیان او درجو جوابونه په (724) مخ کی دی.

1. لاندې درجې رادیان ته تبدیلی کړی .

$(a)30^{\circ}(b)75^{\circ}(c)225^{\circ}$

2. لاندې درجې تر 3 اعشارې خانې پورې رادیان ته تبدیلې کړئ

$(a)48^{\circ}(b)48^{\circ}51'$

3. درجې ته یې واړوئ

$(a)\frac{7\pi}{6}rad$b:$\frac{4\pi}{9}rad$c :$\frac{7\pi}{12}rad$

4. درجواو دقیقو ته یې واړوئ

$(a)0.0125rad$:$(b)2.93rad$ :$(c)7.241rad$

## 26.4 دقوس اوږدوالی اودداېرې اودقطاع مساحتونه
## Arc length and area of Circles and Sectors

### 26.4.1دقوس اوږدوالی Arc length

دتیر درس څخه درادیان دتعریف په اساس په ( 26,7 )شکل کې
Qد رادیان له جنسه ده.------- $s = r\theta$دقوس اوږدوالی

### 26.4.2ددایرې مساحت Area of a Circles

د (25 )څېرکې څخه دهرې دایرې مساحت area =πx
= $\pi r^2$ مساحت

$$Area = \pi r^2 = \frac{\pi d^2}{n}, r = \frac{d}{2}$$

### 26.4.3دقطاع مساحت Area of a Sector

کله چې θ ددرجې له جنسه وي

د قطاع مساحت کله چې θ د درجی له جنسه وی = $\frac{\theta}{360}\pi r^2$

د قطاع مساحت کله چې θ د رادیان له جنسه وی = $\frac{\theta}{2\pi}\pi r^2 = \frac{\theta}{2}r^2$

$=\frac{1}{2}r^2\theta$ کله چې $\theta$ دراديان له جنسه وي.

**8. پوښتنه:** دهاکي دلوبې ميدان يوه نيمايي دايره لرى شعاع يې 14.63m ده ټوله ساحه پيداکړې چې نيمايي دايره يې احاطه کړی ځواب په مترمربع محاسبه کړئ

$\frac{1}{2}\pi r^2 =$ دنيمايي دايرى مساحت

$$r = 14.63m. \text{ چېکلهمساحت } = \frac{1}{2}\pi(14.63)^2$$

$336\ m^2$ = يودنيمايي دايرى مساحت

**9. پوښتنه:** ديوې دايرې فلزی پليټ مساحت پيداکړئ که قطريې $35\ mm$ وي ځواب په ملی مترمربع وټاکئ

$\frac{\pi d^2}{4} = \pi r^2 =$ د دايرې مساحت

$$d = 35.0mm \text{ کله مساحت } = \frac{\pi(35.0)^2}{4} = 962.1127mm^2 \simeq 967mm^2$$

ددايرې دپليټ مساحت 962mm2 کيږي

**10.پوښتنه:** ددايرې مساحت پيداکړئ که محيط يې 60mm وي

$c = 2\pi r$ محيط

خرنګه چې شعاع $r = \frac{c}{2\pi} = \frac{60,0}{2\pi} = \frac{30}{\pi}$ سره ده.

$$= \pi r^2 = \pi\left(\frac{30}{\pi}\right)^2 = \pi\frac{900}{\pi^2} = \frac{900}{\pi} = 286.5mm^2$$ د دايرې مساحت دی.

**11. پوښتنه:** دهغه دايرې دقوس اوږدوالی پيداکړئ چې شعاع يې $5.5cm$ وي او هم له مرکز سره $\theta = 1{,}20rad$ کومه زاويه جوړوي

که θ دراديان له جنسه وي دقوس **اوږدوالی** $s = r\theta$ چې

$s = (5.5)(1.20) = 6.60\ cm$ دقوس اوږدوالی

**12. پوښتنه:** ددايرې قطر اومحيط يې پيداکړې که چېرې دقوس اوږدوالی يې $4.75\ cm$ اومرکزی زاويه يې $0.91$ راديان وي

نو s=rθ خرنګه چې دقوس اوږدوالی

$r = \frac{s}{\theta} = \frac{4,75}{0,91} = 5.22cm$ شعاع

قطر=2xشعاع= $2 \times 5.22 = 10.44\ cm$

محيط $c = \pi d = \pi(10.44) = 32.80\ cm$

**13.پوښتنه:** که ديوې دايرې مرکزي زاويه $125^o$ او شعاع يې $8.4$ وي،نوتاسی$(a)$: داصغري قوس اوږدوالی $(b)$:داعظمی قوس اوږدوالی يې محاسبه کړئ

خرنګه چې $180^o = \pi\ rad$ نو $1^o = \frac{\pi}{180}\ rad$ سره وي او

$$125^o = 125(\frac{\pi}{180})\ rad$$

$(a)$داصغري قوس اوږدوالی $s = r\theta = (8.4)(125)\left(\frac{\pi}{180}\right) = 18.3cm$ کيږي

$(b)$اصغری قوس – محيط =داعظمی قوس اوږدوالی

$1 - Arc = 2\pi(8.4) - 18.3 = 34.5cm$ اعظمی قوس

لوی قوس $Arc = r\theta$ کېږي

$=8.4(360\text{-}125)\left(\frac{\pi}{180}\right) = 34.5c$

**14.پوښتنه:** ددایرې مرکزي زاویه په درجه اودقیقه وټاکئ که ددایرې قطر $42\ mm$ اودمقابل قوس اوږدوالی وي همدارنگه $36mm$ داصغري قطاع مساحت هم پیداکړئ

نو $\theta = \left(\frac{s}{r}\right)$

یا شعاع $r = \frac{قطر}{2} = \frac{42}{2} = 21mm$

رادیان $\theta = \frac{s}{r} = \frac{36}{21} = 1.7143$ څرنگه چې

$1.7143\ rad = 1.7143x\left(\frac{180}{\pi}\right) = 98.22^o = 98^o13'$

داهغه زاویه ده چې ددایرې په مرکز کې جوړیږی. له دوهمی رابطی څخه لیکلایی شو

دقطاع مساحت $= \frac{1}{2}r^2\ \theta = \frac{1}{2}\ (21)^2(1.7143) = 378mm^2$

**15.پوښتنه:** دفوټبال په یوه میدان کې یو روښانه کوونکې گروپ کولای شي چې په $45^\circ$ زاویې سره تر 55m پورې روښنايي ورسوي دروښنايي اعظمی مساحت پیداکړئ

دقطاع مساحت = روښانه شوې ساحه = $\frac{1}{2}r^2\ \theta$

$$= \frac{1}{2}(55)^2\left(45x\frac{\pi}{180}\right) = 1188m^2$$

**16. پوښتنه:** یواتوماتیک سپری پاشونکې په باغ کې $1.8m$ په اندازه سپری شیندي او دې ته د a په مختلفو زاویو سره دوران ورکوي که چیرې دغوښتل شوې سپری دلاس ته راوړوساحه $2.5m^2$ وي،نو کومی زاویې ته ضرورت دی

مساحت m دقطاع $= \frac{1}{2}r^2\theta, \text{hence } 2.5 = \frac{1}{2}(1.8)^2 \propto$

لروچې : رادیان $\propto = \frac{2.5x2}{(1.8)^2} = 1.5432$

$$1.5432\ rad = (1.5432x\frac{180}{\pi})^O = 88.4282^2\theta = 88^\circ$$

**17. پوښتنه:**یوه کړی $20\ mm$ څرخیدونکې قطرسره داستعمال لپاره ازمایل شویده (26 .8) شکل که چیرې څرخیدونکې $2.12\ mm$ سره لاندی اوپورته واقع شي،نود $\theta$زوایې اندازه وټاکئ




(۸ - ۲۶) شکل

پـه $(26-9)$ شـکل کـې $ABC$ يـوه قايمـه الزاويـه مثلـث دی $(C)$ زاويـې سـره پـه 2. 26برخـه کـې د $g$ خصوصيات وګورئ.




(۹- ۲۶) شکل

اودداېرى شعاع BC =10mm(i.e.

(26.9) شکل خخه AB=30-10-2.12=17.88mm

نو $\sin\frac{\theta}{2} = \frac{10}{17.88}$ and $\frac{\theta}{2} = \sin^{-1}\left(\frac{10}{17.88}\right) = 34^o$

زاويه $^o$ $\theta = 68$ ده.

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزیابی کړی:

## 103. تکراری پوښتنی

### د قوس اوږدوالی،ددایرې مساحت او قطاع ځوابونه په (725) مخ کې دي.

1. که دیوې دایرې قطر $55.0mm$ وي په ملي متر مربع سره د هغې مساحت پیداکړئ

2. په سانتي متر سره د یوې دایرې مساحت پیداکړئ چې شعاع یې $6.0cm$ وي

3. په ملی متر مربع سره د یو دایرې مساحت پیداکړی چې محیط یې $150mm$ وي

4. د یو قطاع مساحت په ملي متر مربع سره پیداکړئ چې شعاع یې $35mm$ او مرکزي زاویه یې $75^{\circ}$ وي

5. د یو متحد المرکز بیرونی قطر $49mm$ دی او داخلي قطریې $150mm$ دی مساحت یې تر 4 معنی داره ارقامو پورې محاسبه کړئ

6. د دوه متره پلنې لاری چه د یوی دایروی ځمکې پواسطه چې قطر یې $200m$ وي، مساحت یې په متر مربع سره پیداکړئ

7. د یوه مستطیل پارک اندازه $40m$، $50m$ ده چې د $3m$ گلانو وړوکي بتې چې دوه غتې برخې او یوه وړه برخه لري او یو وړوکی دایروي د ماهیانو ډنډ چه قطر یې $8m$ دی د پارک په منځ کې جوړ شوی دی پلان شوی دی چې پاى برخه کې واښه وکرو،نود چمن مساحت په متر مربع سره پیداکړئ




شکل (۱۰ - ۲۶)

8. په (26 − 10) شکل کې

$(a)$ قطریې معلوم کړئ

$(b)$ مساحت یې پیداکړئ

9. د لاندی شکل مساحت پیداکړئ

شکل (26 − 11)




(۱۱- ۲۶) شکل

10. دیو دایری د قوس اوږدوالی پیداکړی چه شعاع یې $8.32cm$ سانتی متر وی کله چې مرکزی زاویه یې $2.14rad$v وی داخلی اضغری قطراو مساحت پیداکړی

11. که چیری د یو دایری مرکزی زاویه $1.46\ rad$وی او قطر یې $82\ mm$ ملی متر وی نو اوږدوالی یې پیداکړی

$(a)$وړوکې قوس یې څومتره ده

$(b)$لوی قوس یې څو متر ده

12. د $1.5m$د میل اوږدوالی تعیین کړئ چې د $10^{\circ}$ زاویې په اندازه تاو شوی ده تاسې د هغه رسم اوږدوالی پیداکړئ چې دا تول د میل په واسطه رسم شوی وي

13. د یوې دایرې اوږدوالی $32.6cm$ او زاویه یې $3.76\ rad$ده تاسې د زاویه شعاع،اوږدوالی او محیط یې پیداکړئ

14.د یوې زاویې قوس په درجو او د قیقو سره پیداکړئ که چېری $180mm$ د حرکت لرونکې د قرقرې سره وصل وي او قطر یې $250mm$ وي

15. د یوه موټر سایکل دویل د مکملو دورانی تعداد پیداکړئ،که چېری $2km$ لار یې طی کړی وي او د ویل قطر $85km$ وي

16. یو نورشندونکې په $40^{\circ}$زاوی او $48m$ فاصلی د سپورت په میدان کې په پراخه توګه رڼا کوی،نولاندی پوښتنې پلاس راوړې

$(a)$زاویه په رادیان سره معلوم کړئ

$(b)$د نورشندونکې لوی مساحت پیداکړئ

17. د میل ساحه په 50 دقیقو کې پیداکړئ د قیقو د تجربې په واسطه د یو لوی ګلدار ساعت که چیرې دا عقربه $2\,m$ اوږدوالی ولري

18.د لاندی شکل کې $(a)$د سیوري مساحت پیداکړې او د$(b)$ هغه ټولې قطاع مساحت پیداکړئ چه د سیوري مساحت په نښه کوي.



(۱۲ - ۲۶) شکل

19. د هغه فولادي کارتون اوږدوالی پیداکړئ چې غوښتل شوی جوړکړی کارتون به یو ریګ مال (13-26) شکل کې ښودل شوی دی



(۱۳- ۲۶) شکل

20. یوه $50^\circ$مخروط شوی سوري کې یو توپ چې $40mm$ قطر لری د لاندی شکل په اساس ښودل شوی ده اوږدوالی یې پیداکړئ



شکل (۲۶ - ۱۴)

## 26.5 ددايرې معادله The equation of a Circle

ددايرې ترټولوساده معادله چې مرکزيې په مبداکې اوشعاع يې r وي عبارت ده له:

$$x^2 + y^2 = r^2$$

مثلاً : (26.15) شکل $x^2 + y^2 = 9$ دايره راښيي .



شکل (۲۶ - ۱۵)

په عمومی توګه دهغې دايرې معادله چې مرکزيې $(a, b)$ اوشعاع يې r وي په لاندې ډول ده:

$$(x - a)^2 + (y - b)^2 = r^2 \qquad (1)$$

**مثلاً** (26.6) شکل $(x-2)^2 + (y-3)^2 = 4$ ددايرې معادله راښيي.

ديوې دايرې عمومي معادله عبارت ده له: $x^2 + y^2 + ex + fy + c = 0$

ددايرې دمعادلې انکشاف يافته شکل په لاندې ډول دی:

$$x^2 - 2ax + a^2 + y^2 - 2by + b^2 = r^2$$

که دامعادله د2 معادلې سره مقايسه کړونووينوچې: $e = -2a => a = -\frac{e}{2}$

او $f = -2b, => b = -\frac{f}{2}$ او $c = a^2 + b^2 - r^2, => r = \sqrt{a^2 + b^2 - c}$

پدې ډول لاندې معادله حل کوو:

$x^2 + y^2 - 4x - 6y + 9 = 0$

د مرکزمختصات يې په لاندې ډول دي.

$a = -\left(\frac{-4}{2}\right), b = -\left(\frac{-6}{2}\right) => (2.3)anb$

نو $r = \sqrt{2^2 + 3^2 - 92} = 2$

$x^2 + y^2 - 4x - 6y + 9 = 0$ يا $(x-2)^2 + (y-3)^2 = 4$ معادله( 26,16 )شکل راښيي.



شکل (۲۶ -۱۶)

18. پوښتنه لاندې معادله راکړل شوېده،تاسې يې $(a)$ شعاع تعيين کړئ $(b)$ د مرکز مختصات يې وټاکئ؟ $x^2 + y^2 + 8x - 2y + 8 = 0$ حل: $x^2 + y^2 + 8x - 2y + 8 = 0$ معادله د 2 معادلې له شکل څخه ده.

$a = -\left(\frac{8}{2}\right) = -4, b = -\left(\frac{-2}{2}\right) = 1$ نو

$r = \sqrt{(-4)^2 + 1^2} - 8 = \sqrt{9} = 3$ نو $x^2 + y^2 + 8x - 2y + 8 = 0$ معادله هغه دايره راښيي چې مرکزيې $(-4,1)$ او شعاع يې 3 ده لکه په( 26,17 )شکل کې کولی شو په لاندې ډول يې وښيوو:



شکل (۱۷ -۲۶)

$x^2+y^2+8x-2y+8=0$ معکوساً بیایی ترتیب کوو

$(x+4)^2+(y-1)^2-9=0$

$(x+4)^2+(y-1)^2=3^2$

دادهغي داېرې معادله راښيي چې مرکز $(-4,1)$ او شعاع يې $(3)$ وی لکه پورته شکل کې

**19.پوښتنه:** لاندی معادله درکړل شویده تاسي يې دایره رسم کړئ

$x^2+y^2-4x+6y-3=0$

حل:د دایرې معادله چې مرکز يې $(a,b)$ او شعاع يې r وي په لاندې ډول لیکلای شو:

$(x-a)^2+(y-b)^2=r^2$

د دایرې عمومی معادله عبارت ده له

$$x^2+y^2+ex+fy+c=0$$

دپورته معادلې څخه $r=\sqrt{a^2+b^2-c}$ او $a=-\frac{e}{2}, b=-\frac{f}{2}$

نو که چېرې $x^2+y^2-4x+6y-3=0$ شي

نو نو $a=-\left(\frac{-4}{2}\right)=2, b=-\left(\frac{6}{2}\right)=-3$

او $r=\sqrt{2^2+(-3)^3-(-3)}=\sqrt{16}=4$

پدې ډول د دایرې مرکز $(2,-3)$ او شعاع $(4)$ ده لکه په $(29,18)$ شکل کې



۱۸- ۲۶) شکل

کولای شو $x^2 + y^2 - 4x + 6y - 3 = 0$ معکوساً پهلاندي ډول وليکو:

$(x-2)^2 + (y+3)^2 - 3 - 13 = 0$

$(x-2)^2 + (y+3)^2 = 4^2$

هغه دايره راښيي چې مرکزيي$(2,-3)$اوشعاع يي 4 ده.

اوس لاندی عملی پوښتنی ارزيابی کړی:

## 104. تکراری پوښتنی
### د دايرې د معادلې ځوابونه په (725) مخ کې دي.

1: کـــه د $x^2+y^2-6x+8y+21=0$ د دايــرې د معادلـــه$(a)$ ده شـــعاع يـــی$(b)$ لاســـته راوړی د مرکز مختصات يي پيداکړئ

2: د $x^2+y^2-6x-4y-3=0$ معادلی دايره رسم کړئ

3: د $x^2+(y-1)^2-25=0$ معادلی منحني رسم کړئ

4 : $x = 6\sqrt{\left\{1-\left(\frac{y}{6}\right)\right\}^2}$ منحني رسم کړئ

## لسم ازمیښت ته کتنه Revision Test 10: دایرې اومساحتونه

دغـه سـوالونه د 25 او 26 څپرکـوو مربـوط دي د هرسـوال لپـاره نمـرې دسـوال پـه اخرکـې لیکل شوي دي.

1.د یـوه فلـزي مسـتطیل شـکله فلـزی فیلـټ مسـاحت $9600cm2$ دی کـه چېـرې دفلـزی فیلـټ اوږدوالی $1,2m$وي عرض یې په سانتی متر سره پلاس راوړئ (3)

2. د لاندې فلزی برخي عرضی مقطع مساحت په ملي متر سره پیداکړئ (4)



(۱ - ۱۰) شکل

3. د لانـدې ذوذنقـې مسـاحت پیـداکړئ دارنګـه چـې د $(MNOP)$ ذوذنقـه کـې a=6.3$cmb = 11.7cmh = 5.5cm$ وي (3)



(۲ - ۱۰) شکل

4. د $DEF$ مثلـث مسـاحت پیـداکړئ تـر 2 اعشـارې خـانې پـورې پـه شـکل $(RT\ 10-3)$ کـې (4)

5.دیومســــتطیل پــــارک انــــدازه $150m$او $70m$ او $2m$د ګلونوانــــدازه  د دوه غځوبرخواویــــوې وړې برخــې ځخــه جوړشــوی دی او یــوه دایــروي شــکله د ماهیانوډنــډ چــې قطــر یــې$15m$ دی د پــارک پــه منځ کــې جــوړ شــوی دی او پــاتې برخــې یــې چمــن ده پــه متــر مربــع ســره یــې محاسـبه کړئ (6)

$(a)$د ماهیانو ډنډ مساحت معلوم کړئ

$(b)$د ګلونو اندازه معلومه کړئ

$(c)$چمن یې څومره ده

6.دلامبــو یــو حــوض چــې $55m$ اوږدوالــی، $10m$ عــرض ، $5m$ژوروالــی او $1.5m$دســطحې ژوروالی لري د مایـل تـوب چـې د یـوه پـه اخـر کـې او د بـل پـه شـروع کـې یـو شـان دی د منځنـي برخــې لپــاره دوه بالاپوشــونو تــه ضــرورت دی چــې لــه اوبــو څخــه یــې وســاتي څــومره لیترونــه ضرورت دی چه یو لیتر$10m^2$ځمکه  اشغال کړي  (7)



شکل (۳ - ۱۰)

7.دهغه متساوی الاضلاع مساحت پیداکړئ چې یو طرف یې $10cm$ وې (4)

8.یوفـولادي قــاب چــې شــکل یــې پــه  $(RT\ 10 - 4)$کــې ښــودل شــوی دی،ددې قــاب مســاحت پــه $cm^2$سره تر 1 اعشارې خانی پورې پیداکړئ (8)




شکل (۱۰ - ۴)

9. دیــوي ځمکــې د ټــوټې مســاحت پــه نقشــه کــې $400mm^2$ دی کــه چیــرې د نقشــې نقطــه ګــزاري د $50.000 - 1$ پــورې شــوې وي ددې ځمکــې صــحیح مســاحت پــه هکتارســره محاسبه کړئ $(1hectare = 104m^2$

10. په $cm^2$ سره د لاندې شکل مساحت پیداکړئ (3)




شکل (۱۰ - ۵)

11. په $mm^2$ سره د دایرې قطر محاسبه کړئ که چیرې د دایرې محیط $178.4cm$ وي(2)

12. تــر 1 اعشــاري خــاني پــورې د یــوې دایــرې مســاحت پیــداکړئ کــه چیــرې د دایــرې شــعاع $6.84cm$ وي (2)

13. د یوې دایرې مساحت په $mm^2$ سره پیداکړئ که محیط یې $250mm$ وي (4)

14. دهغــې قطــاع مســاحت پیــداکړئ چــې شــعاع یــې $50mm$ اومرکــزي زاویــه یــې $120°$وي (3)

15. د لاندې شکل ټول مساحت پیداکړئ تر یوې اعشاري خانې پورې (7)




(۶ - ۱۰) شکل

16. د يو دايروي كركټ ميدان شعاع $75m$ ده يو څه حدونه يې په سپين رنګ سره رنګ شوي دي اويو ټيم پواسطه رنګ شوى ساحى اوږدوالى يې $22.5m$ وي د څومره ټيمونو د رنګونو لپاره ضرورت دى (3)

17. ديوې $1.5m$ پلنى لارې مساحت پيداكړئ د $100m$ قطرلرونكې دايروي ځمكې ټوټې په واسطه احاطه شوي وي (3)

18. يو سايكلو متر $2530$ دوران سره $3.7\,km$ فاصله لرى دويل قطرتر $2$ اعشاري خانې پورې په $cm$ سره پيداكړئ (4)

19. يوساعتددقيقو دعقربې اوږدوالى $10.5\,cm$ دى په $24\ h$ ساعتونو كې به څومره سفر وكړي (4)

20. تبديل يې كړئ (4)

$(a)$ $125°47'$ راديان ته

$(b)$ $1.724$ راديان درجو او دقيقو ته

21. د هغه فلزي ټوټې اوږدوالى پيداكړئ چې په

$(RT\ 10-7)$ شكل كې (7)




شکل (۷ - ۱۰)

22.دلاری د ویـل شــعاع $50\ cm$ ده تاســي د مکملــو دورانونــو تعــداد محاســبه کــړئ کلــه چــې لاری 3میله حرکت وکړي $(1mile = 1.6km)$ (4)

23.د لاندی دایری معادله درکړی شوی ده: (7)

تاسی يې $x^2 + y^2 + 12x - 4y + 4 = 0$

$(a)$قطر محاسبه کړئ $(b)$ ددایری مرکزی مختصات پیداکړئ

# اوه ویشتم څپرکی

## Volumes of Common Solids دمروجه جامدواجساموحجمونه

## 27.1 پیژندنه Intraduction

1 – 27 **: تعریف**: د جامد جسم حجم هغه اندازه ده چې جامد جسم یې په فضا کې اختیاروي،چې حجم په مکعب سره اندازه کیږي حجم واحدات عبارت دی له$m^2$,$cm^3$,$mm^3$پدېڅپرکېکي دځینی مشهوروجامدو اجسامو په حجمونوباندې بحث کوو په انجینری کې مهمه داده چې د مایعاتو د مقدار لپاره لکه غوړی، اوبه ، پطرول اوهمدارنګه نورو شیانو حجمونه باید تعیین کړو،کوم چې د مختلفو شکلونو درلودونکی دي ، منشور هغه جامد جسم دی چې مقابلي وجهې یې دوه په دوه سره مساوي اوموازي وي دمنشوردولونه عبارت دی له مستطیلی منشور،مثلثی منشور اودایروی منشورڅخه (۱,۲۷) شکل یو منشور ارایه کوي ددې په تکمیلولو سره به وکولای شو چې دمنشور حجمونه اودسطحو مساحتونه وپیژنو لکه د مستطیل ، منشور، دایروی منشور ، استوانه ، مخروط ، هرم ، طبقي او داسي نور او همدارنګه مخروطونه اودهغوی حجمونه هم په نظر کې نیول شوی دي .

## 27.2 مهموشکلونه حجمونه اودسطحي مساحتونه
## Volumes and Surface areas of Common shapes

### 27.2.1 مکعب یامستطیلي منشور Coboid or rectangular prisms

مکعب یو جامد شکل دی چې شپږمستطیلی سطحواحاطه کړی دی ټولي زاویبیې قایمی دي اومقابلی سطحی یې سره مساوي دي نمونه یې( 27 ,1) شکل دی چې $l$ اوږدوالی $b$ یې پندوالی او $h$یې ارتفاع ده.نو ( معکب حجم $= L \times b \times h$ )

$$\text{سطحی مساحت} = 2bh + 2hl + 2lb = 2(bh + hl + lb)$$




شکل (۱- ۲۷)

مکعب یو مربعي منشرو دی که که چیرته ټولی ضلعی $x$ سره وښایو نو .

$$\text{حجم} = x^3 \qquad \text{سطحی مساحت} = 6x^2$$

**1. پوښتنه:** دمکعب بعدونه $12\ cm$ دیچي $3cm$ په $4cm$ کې دي،تاسې(a ):دهغه حجم وټاکئ (b ) د ټولی سطحی مساحت یې محاسبه کړئ غوښتل شوی مکعب د (۱-۲۷) شکل په شان دي.

مکعب حجم $= L \times b \times h\ ,\ L = 12cm\ , b = 4cm\ , h = 3cm$ (a)

معکب حجم $= 12\text{cm} \times 4\text{cm} \times 3\text{cm} = 144cm^2$

(b) د سطحی مساحت

$= 2(bh + hl + lb)$

$= 2(4 \times 3 \times 3 \times 12 \times 12 \times 4)$

$= 2(12 + 36 + 48)$

$= 2 \times 96 = 192\ cm^2$

**2. پوښتنه:**دتیلوټنکرچې دمکعب شکل لري دهري څنډې اوږدوالی یې $1.5cm$ دی،تاسی(a) دټانکراعظمي ظرفیت په $m^3$ او لیتر باندی محاسبه کړئ. (b) مجموعي سطحي مساحت یې وټاکئ. د داخلي او خارجي سوریو مساحت څخه په صرف نظر سره .ی

(a) دمکعب حجم = دتیلوټانکر حجم

د ټانکر حجم په سانتی $= 1{,}5cm \times 1{,}5cm \times 1{,}5cm = 3{,}375cm^3$

د ټانکر حجم په متر $= 3{,}375 \times 10^{-6}m$

د ټانکر ظرفیت $= 3{,}375 \times 10^{-3}$

دټانکرحجم نو$= 3{,}375 \times 10^{6}\ cm^3$

دټانکرظرفیت یولیتر$= 1000\ cm^3$

لیتر $3375 =$ لیتر $= \frac{3.375\text{x}10^6}{1000}$

(b) دیوی ضلعی سطحی مساحت$= 1.5m \times 1.5m = 2.25\ m^2$

څرنکه چې مکعب شپږضلعی دي نو

دتیلودټانکر سطحی مجموعی مساحت$= 6 \times 2.25 = 13.5m^2$

**3.پوښتنه:**داوبو ټانکر چې دمستطیل ډوله منشورشکل لري اوږدوالی یې $2m$ ،قاعده یې $75\ cm$ او ارتفاع یې $500\ mm$ ده،تاسې دټانکرظرفیت په $(a)m^3, (b)cm^3, (c)litrs$ لیترونوسره محاسبه کړئ.

دظرفیت څخه مقصد حجم دی کله چې مایعات ذکرکیږی نو معمولاً د ظرفیت لفظ استعمالیږی.

دابوټانکر 1. 27شکل په ډول دی چې

$l = 2m\ , b = 75\ cm$ او$h = 500mm$

داوبوټانکرظرفیت ددې لپاره چې ددي فورمول څخه استفاده وکړو نو$(a) = I \times b \times h$ ټول ابعاد باید یو ډول واحد ولري.

واحدات ټول لیترته تبدیلوو

نو $1m = 100cm = 100mm$

نو$= 2m, b = 0.75m$ او $h = 0,5m$

دټانکرظرفیت$= 2 \times 0.5 \times 0.75 = 0.75\ m^3$

$b)1m^3 = 1m \times 1m \times 1m = 100\ cm \times 100\ cm \times 100\ cm$

نو $e, 1m^3 = 1000000 = 10^6\ cm^3$ نو

ظرفیت$= 0.75\ m^3 = 0.75 \times 10^6\ cm^3 = 750000\ cm^3$

$(c)$ څرنګه چی$1000^3 =$ لیتر دی نو

$750000\ cm^3 = \frac{750000}{1000} = 750$لیتر

## 27.2.2 استوانه Cylinders

استـوانه یـو دایـروي منشـوردی چـې پـه ( 2. 27) شــکل کـې مورتـه اسـتوانه راښـایېچې شـعاع یـې $r$ اوارتفاع یې $h$ ده.




(۲- ۲۷) شکل

حجم$= \pi r^2 h$

د دایروی سطحو مساحت $= 2\pi rh$

د ټول استواني سطحه $= 2\pi rh + 2\pi r^2$

د ټـولي سـطحي مسـاحت څخـه هـدف د منحنـی سـطحی مسـاحت جمـع دا دوه اخیرنیـو دایـرو مساحت.

**4.پوښــتنه:** دیــوې جامــدې اســتوانی دقاعــدې قطــر $12\ cm$ اوعمــودي ارتفــاع یــې $20\ cm$ ده: (a) حجم یې پیداکړئ. b:مجموعي سطحي مساحت یې پیداکړئ.

(a) حجم $= \pi r^2 h = \pi \times (\frac{12}{2})^2 \times 20 = 720\pi = 2262 cm^3$

(b) دسطحې ټول مساحت یې

$= 2\pi rh + 2\pi r^2$

(c) $= (2 \times \pi \times 6 \times 20) + (2 \times \pi \times 6^2)$

$= 240\pi + 72\pi = 312\pi = 980\ cm^2$

**5.پوښــتنه:** پــه( 3. 27 )شــکل کــې دمســویوپایپ چــې څلورخــواوې یــې هــم ورســره ذکرشــوی تاسیبي په مترمکعب سره حجم پیداکړئ.




(۳ - ۲۷) شکل

خارجي قطر $D = 25\ cm = 0.25\ m$ داخلي قطر $d = 12\ cm = 0.12\ m$

دمسو پایپ دعرضي مقطع مساحت

د عرضی مقطع مساحت $= \dfrac{\pi D^2}{4} - \dfrac{\pi d^2}{4} = \dfrac{\pi(0.25)^2}{4} - \dfrac{\pi(0.12)}{4} = 0.0981 - 0{,}00226$
$= 0{,}098m^2$

د مسو حجم = د عزضی مقطع مساحت × د پایپ اوږدوالی × $= 0{,}098m^2 \times 2.5m$
$= 0{,}2395m^3$

## 27.2.3 نور منشورونه More Prisms

(27.4)شــکل مورتــه د $h$ , $l$ او $b$ بعــادو پــه لرلوســره یــوه قایمــه مثلثــاتی منشــور ارایــه کوی.




(۴- ۲۷) شکل

$\frac{1}{2}$ bhl=حجم د قاعده + د طرفونو مساحتونه = د سطحی مساحت

دري د بعدونو مساحت + د هری اخرنی برخی مساحت = د سطحی مساحت

نــوټ : څرنګــه چــي مــوږ تــه حجــم د اخیرنــی برخــی بــه مثلــث ســره راکــړل شــوی (د مثلــث مســاحت = $\frac{1}{2}$bh) چــه پــه اوږدوالــی L کــي ضــرب شــوی دي پــه حقیقــت کــي د هــر منشــوری شکل حجم عبارت دي له د اخیرنی برخی مساحت ضرب د طول سره .

**6. پوښتنه:** د (5. 27) شکل حجم په $cm^3$ سره وټاکئ.




(۵- ۲۷) شکل

(5. 27)شــکل یــومثلثی منشــور ښــیي دهرمنشــور حجــم $v = Ah$ چــي $A$ دعرضــي مقطــع مســاحت او $h$ عمودي ارتفاع ده نو:

$$\text{حجم} = \frac{1}{2}x16x12x40 = 3840\text{mm}^3 = 38.40cm^3$$

څرنګه چي( $1cm^3 = 1000\ mm^3$ )کیږي.

**7. پوښــتنه:**پــه (27.6)شــکل کــي یــوه قایمــه الزاویــه مثلثــي منشــوردراکړل شــوی دی،تاســیي حجم اودټولي سطحي مساحت وټاکئ.



(۶- ۲۷) شکل

د قایم الزاویه مثلثی منشور حجم $= \frac{1}{2}bhl = \frac{1}{2}(6 \times 8 \times 40)$

حجم $= 960cm^3$

دطرفونو مساحت + دقاعدو مساحت = د تولي سطحی مساحت

په مثلث کې $ABC \;, AC^2 = AB^2 + BC^2$

پوهیږو چې $AC = \sqrt{AB^2 + BC^2} = \sqrt{6^2 + 8^2}$

$= 10cm$

د مجموعی سطحی مساحت $= 2\left(\frac{1}{2}bh\right) + (Acx40) + (Bcx40) + (ABx40)$

$= (8 \times 6) + (10 \times 40) + (8 \times 40) + (6 \times 40)$

$= 48 + 400 + 320 + 240 \qquad = 1008cm^2$

**8. پوښتنه:** په (7. 27)شکل کې یومنشوردرکړی شوی دی حجم اودټولي سطحي مساحت يې وټاکئ.

(7. 27)شکل یو ذوذنقوي منشوردی.




$h^2 + 4^2 = 5^2$

$h^2 = 5^2 - 4^2 = 9 = h = 3$

(۷- ۲۷) شکل

ارتفاع + عرضی مقطع = دمنشور حجم

$= \frac{1}{2}(11 + 5)4 \times 15 = 32 \times 15 = 480\ cm^3$

ددوو متوازالضــلاع مســاحت + د پاســنی او لانــدینی مســتطیلونو مســاحت ددوو ذوذنقــو = د منشور دسطحي مساحت

دمنشوردسطحي مساحت

$$= (32 \times 2) + (5 \times 15) + (11 \times 15) + 2(3 \times 15) = 394Cm^2$$

Type equation here.

## 105. تکراری پوښتنې

**حجمونه او سطحی مساحتونه دعمومی شکلونه ځوابونه یې په (725) صفحه کې دي.**

1: $1200000cm^3$حجم په متر مکعب تبدیل کړئ

2: $5000mm^3$ حجم په سانتي متر مکعب تبدیل کړئ

3: دیوه فلزی مکعب سطحي مساحت $24\ cm^2$ ده،تاسي دهغی حجم پيداکړئ.

4:د یومســتطیلی بــلاک چــې د لرګــي څخــه جــوړ شــوي دري ابعــاد یــی پــه ترتیــب ســره 40mm ،8mm،12mm دی نو تاسی وښایست چې .

(a): د هغي حجم په $mm^3$سره وښايي.

(b) په $mm^2$ سره د ټول سطحي مساحت پيداکړئ.

5 : د یـوه ټانـک ظرفیـت پـه لیتـرو سـره محاسـبه کـړی چـی انـدازه یـې $90\ cm$او $60\ cm$ او $118\ m$ ده او

$1liter = 1000cm^3$ دیمحاسبه کړئ.

6: یـوه مسـتطیلی فلـزي دړه چـه ابعـادو انـدازه یـې $40\ mm$ ، $25\ mm$ ، $15mm$ ده د هغـې حجـم په $cm^3$ سره پیداکړئ او همدارنګه کتلـه ئـی محاسـبه کـړئ کـه چیرتـه د فلـز کثافـت $9\frac{gr}{cm^3}$ وي .

7: دیـو ټآنـګ اعظمـی ظرفیـت پـه لیتـرو محاسـبه کـړئ کـه چېـرې انـدازه یـې لـه 50cm ، $40cm$ ، 2.5m وي. $(1litre = 1000cm^3$

8: څـو $m^3$ کانکریـټ د $12m$ اوږدې لارې لپـاره پـه کـار دي چـه $150mm$یـې عـرض او $80mm$ ژوره وي.

9: یو سلنډر $30mm$ قطر لری او $50mm$ لوړوالی لري محاسبه کړئ.

(a) په $cm^3$ سره یې حجم تر 1 اعشارې خانې پورېحساب کړئ.

(b): ټول سطحی مساحت یې په $cm^2$ سره تر 1 اعشارې خانی پورې حساب کړئ.

10: د هغـه مثلـث ډولـه منشـور(a) حجـم (b)او ټـول سـطحي مسـاحت پیداکړئ چـه اوږدوالـی یې $80\ cm$ او هغه مثلث چه قاعده یې په $12\ cm$او عمودي ارتفاع یې په $5cm$ ختم شوی وي.

11: یـوه فـولادي ټوټـه چـه حجـم $2cm^2$ پـه انـدازه لـري $2m^2$ پـه انـدازه د یـوه فیلـټ پـه واسـطه نیـول شـوی دی چـه فیلـټ $30\ mm$ پنـډوالی او $1.80\ m$ عـرض لـری د فیلـټ اوږداولـی متر سره محاسبه کړی.

12: د یوه سلنډر حجم $75\ cm^3$ دی که چېری ارتفاع $9\ cm$ وی نو شعاع یې پیداکړی.

13: د یـوه فلـزی تیـوب حجـم پیـداکړی کـه چېـری بیرونـی قطـر $8cm$ او داخلـی قطـر یـې $60\ cm$ وی او اوږدوالی د تیوب $4m$ وي.

14:کـه دیـوه سـلنډر حجـم $400\ cm^2$ وی او شـعاع یـې $5.20\ cm$وی نـو تاسـی یـې ارتفـاع او د منځنۍ سطحی مساحت یې پیداکړئ.

15: کـه د یـو سـلنډر پـه مسـتطیلی ټـوټی د فلزاتـو سـره $12\ cm, 7\ cm, 5cm$وغـورزل شـي کـه اوږدوالی د سلنډر $60\ cm$ شي،نو قطر یې محاسبه کړئ.

16: د یـوه مـنظم شـپږ ضـلعی حجـم اود ټـولی سـطحي مسـاحت پیـداکړئ کـه چیرېیـې اوږدوالـی $3m$وي اود مسیر دضلعي هر لوری یې $6cm$ وي

17: د سـر پـو یـوه دړه چـه $90\ cm$ ، $1.1m$ ، $750\ cm$ پـه سـټګ وهلـی شـوی او یـوه مربـع تختـه د $15\ mm$ په پنډوالی لري جوړه شوی ده،نو تاسې د مربع تختې اندازه په $cm$ سره وښیې.

18: $800\ mm^3$ لرونکې نلکه باید څومره اوږده وي چې په $3litr$ ډکه کړی.

19: یـو سـلنډر د یـوی مسـتطیلی ټوټـه سـره غورځـول شـوی ده چـه 6.50 cm ، 5.20 cm ، 9.33 cm یـې انـدازه ده کـه ارتفـاع د سـلنډر 52.0 cm شـی نـو تاسـی د هغـی قطـر پـه سـانتی متـر سره اندازه کړی.

20: څومره کانکریټونه ضرورت دی چه 12 cm پنډه (لاره) پرې جوړه کړی.



شکل (۲۷ -۸)

## 27.2.4 هرم Pyramids

عمودی ارتفاع ×دقاعدی مساحت $\frac{1}{3}$ = دهرهرم د حجم لپاره

(27 .9)شـکل کـې د یـومربعي قاعـدې هـرم دی چـې دقاعـدې بعـدی $x$ پـه $x$ کـې اوعمـودی ارتفاع يې $h$ ده دمربعي قاعدې هرم لپاره حجم :

حجم= $\frac{1}{3}x^2h$



شکل (۲۷ -۹)

**9.پوښتنه:**دیـومربعي قاعـدې هـرم عمـودي ارتفـاع 16 cm کـه د قاعـدې یـوه ضـلع یـې 6cm وي نودهرم حجم وټاکئ.

حل: دهرم حجم

عمودی ارتفاع x دقاعدې مساحت $\frac{1}{3}x$ = دهرم حجم

$=\frac{1}{3}x(6x6)x16 = 192cm^3$

**10.پوښتنه:**(27.10)شکل کې يو مربعي قاعدې هرم چې ارتفاع يې 12 $cm$ ده راکړل شويدی،تاسېپيي حجم او مجمو عي سطحېمسا حت وټا کئ.

دهرم حجم

عمودي مساحت x دقا عدې مسا حت$\frac{1}{3}$=دهرم حجم




(۱۰-۲۷) شکل

$$=\frac{1}{3}(5x5)x12 = 100cm^3$$

دتولي سطحي مساحت عبارت دی مربع دقاعدې اوخلور مساوي مثلثونه.

عمودي ارتفاع x قاعده $\frac{1}{2}$ =x دADE مثلث مساحت

$$=\frac{1}{2}.5xAc$$

دAc اوږدوالی دفيثاغورث دقضيي په واسطه حسابولی شو.د $ABC$ په مثلث کې څرنګه

چې $AB = 12\ cm$ سره او $BC=\frac{1}{2}x5 = 2.5cm$

$AC=\sqrt{AB^2 + BC^2} = \sqrt{12^2 + 2.5^2}$

$=12.26\ cm$

$ADE$ مثلث مساحت نود $ADE=\frac{1}{2}x5x12.26 = 30.65cm^2$

دهرم مجموعي د تولي سطحي مساحت $= (5 \times 5) + 4(30.65)$

$= 147.6\,cm^2$

**11. پوښتنه:**يومستطيلي منشورچې ابعاديې $5cm$ په $6cm$ په $18\ cm$ دفلزڅخه جوړشوی دی اوديومستطيلي هرم پواسطه احاطه شوی چې ابعاد يې $6cm$ په $10\ cm$ کې دی،تاسې دهرم عمودي ارتفاع وټاکئ په داسې دول چې د فلز هيڅه برخه ضايع نه شي.

دمستطيلي منشور حجم$= 5 \times 6 \times 18 = 540\ cm^3$

عمودی ارتفاع xقاعدی مساحت $\frac{1}{3}$ = x دهرم حجم

نو $540\frac{1}{3}x(6x10)xh$

پوهيږوچې $h = \frac{3x540}{6x10} = 27cm$

دهرم عمودي ارتفاع ده. $= 27cm$

## 27.2.5 مخروط Cones

مخروط دايروي قاعدی لرونکې هرم دی،دمخروط دقاعدې شعاع $r$ او عمودي ارتفاع يې $h$ ده لکه 11. 27شکل کې عمودي ارتفاع x دقاعدی مساحت $x\frac{1}{3} =$ حجم

بنودل شوی دی . $حجم = \frac{1}{3}\pi r^2 h$

دمنحني سطحي مساحت $= \pi rL$

دټولي سطحي مساحت $= \pi rL + \pi r^2$




(۱۱- ۲۷) شکل

**12.پوښتنه:**يومخروط چې شعاع يې $30\ mm$ اوعمودي ارتفاع يې $80\ mm$ تاسېيي حجم په $cm^3$ سره وټاکئ.

$$دمخروط حجم = \frac{1}{3}\pi r^2 h = \frac{1}{3} x\ \pi x 30^2 x 80$$

$= 75398\ .2236\ .......\ mm^3$

$1cm = 10\ mm$

$1cm^3 = 10\ mm \times 10\ mm \times 10\ mm = 10^3 mm^3$

$1mm^3 = 10^{-3} cm^3$

نو $: 75398.2236 \ldots\ldots mm^3$

$= 75398.2236 \ldots\ldots \times 10^{-3} cm^3$

حجم $= 75.40\ cm^3$

معکوساً سوال څخه لروچي:

او $r = 30mm = 3cm$

$h = 80mm = 8cm$

نو

حجم$\frac{1}{3}\pi r^2 h = \frac{1}{3} x\ \pi x 3^2 x 8 = 75.4 cm^3$

**13. پوښتنه:** یو مخروط چې شعاع یې 5cm او عمودي ارتفاع یې $2\ cm$ ده،تاسې یې د ټولي سطحې مساحت وټاکئ.( 12. 27 )شکل غوښتل شوی مخروط ارایه کوي.

دمخروط حجم $= \frac{1}{3}\pi r^2 h = \frac{1}{3} x\ \pi x 5^2 x 12$

$= 314.2 cm^3$

دقاعدی مساحت + دمنحنی سطحې مساحت = دټولي سطحې مساحت

$= \pi r l + \pi r^2$

(27.12)شکل څخه د $L$ ارتفاع قیمت دفیثاغورث دقضیې په اساس عبارت دی له:




شکل (۱۲- ۲۷)

$L = \sqrt{12^2 + 5^2} = 13cm$

نومجموعي سطحې مساحت $= (\pi \times 5 \times 13) + (\pi + 5^2 = 282.7 cm^2$

## 27.2.6 کره Spheres

(27.13)شکل یوه کره ښيي.

$$\text{حجم} = \frac{4}{2}\pi r^3$$




شکل (۲۷ - ۱۳)

$$\text{سطحی مساحت} = 4\pi r^2$$

14- **پوښتنه :**که دیوې کرې قطر 10 cm وی تاسیبي حجم اوسطحي مساحت وټاکئ.

شعاع$r = 5cm$ 10 cm= څرنګه چې قطر

$$\text{دکری حجم} = \frac{4}{3}\pi r^3 = \frac{4}{3} x\ \pi x 5^3$$

$= 523.6 cm^3$

$$\text{دکرې دسطحې مساحت}\ 4\pi r^2 = 4x\pi x5^2$$

$= 314.2 cm^2$

15- **پوښتنه:**دیوې کرې سطحي مساحت $201.1 cm^2$ دی تاسی قطراوحجم وټاکی.

$4\pi r^2$= دکرې سطحی مساحت

نو $201.1 cm^2 = 4 \times \pi \times r^2$

$$\text{نوپوهیږوچې}\ r^2 = \frac{201.1}{4x\pi} = 16.0$$

$$\text{شعاع}\ r = \sqrt{16.0} = 4.0\text{cm}$$

څرنګه چې قطر$= 2 \times r = 2 \times 4.0 = 8.0 cm$

$$\text{دکری حجم} = \frac{4}{3}\pi r^3 = \frac{4}{3}\ \pi x(12.57)^3 \quad = 8319.447\text{cm}^3$$

## 106.تکراری پوښتنی

### عمومی اشکال دحجمی او سطحی مساحتونو ځوابونه یې په ( 725) صفحه کې دي.

1: که یو مخروط 80 mm په اندازه قطر ولري او عمودي ارتفاع یې 120 mm وي تاسي ددې حجم په $cm^3$ باندې او هم ددي منحني سطحي مساحت محاسبه کړئ.

2: یو مربعي هرم چې عمودي ارتفاع یې 4 cm ده او د جانبي قاعدې اوږدوالی یې 2.4 cm ده تاسي ددې حجم او مجموعي سطحي مساحت د هرم پیداکړئ.

3: یو کروي حجم چې 6 cm قطر لري تاسي ددې حجمي اوسطي مساحت تعیین کړئ.

4: که د یو کروي حجم $566\ m^3$ وي تاسی یې شعاع پیداکړئ.

5: د یو هرم چې قاعده یې مربع او عمودي ارتفاع یې 25 cm او حجم یې $75\ cm^3$ وی تاسي د قاعدې د هر طرف اوږدوالی په سانتي مترسره تعیین کړئ.

6: د یــو مخــروط د قاعــدې قطــر یـــې $16\ mm$ او عمــودي ارتفــاع یـــې $40\ mm$ دی ددې حجمچــې مکعب ملي متر ته نژدې دی پیداکړئ.

7: تعیین کړئ (b) حجم (b) سطحی مساحت د یو کروي جسم چې شعاع یې $40\ mm$ وي.

8: د یو کروي حجم چې $325\ cm^3$ وي قطر پیداکړئ.

9: د ځمکې شعاع $6380\ km$ درکړل شوي د انجینری (مهندسې) له نظره محاسبه کړئ.

(a) په هر $km^2$ سطحه کې ددې مساحت (b) په هر $km^3$ ددې حجم

10: د یــو فلــز چـې حجـم یـې $1.5m^3$ او د ګلـولې د حرکـت لپـاره جـوړ شـویچې شــعاع $8.0\,cm$ څومره فلزي ګلولې تولیدي شیچې ضایعات یې $5\%$ وي.

## 27.3 دمشهورواجساموحجمونواوسطحي مساحتونولنډيز

## Summary of Volumes and surface areas of common solids

دمشهوروجامدواجسـامو دحجمونـو اوسـطحي مسـاحتونو لنـډیز پـه 27.1 چوکـاټ کـې راکـړل شویده.

**۱-27.1 چوکاټ: دمنظمو جامدواجسامو دحجمونو اوسطحي مساحتونه**

**مستطیلي منشوریا مکعب**



Cylinder استوانه




$\text{Volume} = \pi r^2 h$

$\text{Total surface area} = 2\pi rh + 2\pi r^2$

Triangular prism مستطيلي منشور




$\text{Volume} = \frac{1}{2}bhl$

Surface area = area of each end + area of three sides

Pyramid هرم




$\text{Volume} = \frac{1}{3} \times A \times h$

Total surface area = sum of areas of triangles forming sides + area of base

Cone مخروط




$\text{Volume} = \frac{1}{3}\pi r^2 h$

$\text{Curved surface area} = \pi rl$

$\text{Total surface area} = \pi rl + \pi r^2$

Sphere کره




$\text{Volume} = \frac{4}{3}\pi r^3$

$\text{Surface area} = 4\pi r^2$

## 27.4 مغلق حجمونه اودسطحومساحتونه
## More complex volumes and surface areas

اوس يوځو مغلق اومركب مثالونه دجامدواجسامو په باره کي وړاندی کوو.

**16. پوښتنه:** په( 14. 27 )شکل کې دلرګي یوه برخه راکړل شوي ده تاسېپي



شکل (۱۴- ۲۷)

(a)- حجم په $m^3$ سره وټاکئ.

(b)- دټولي سطحي مساحت یې ځومره دی.

(c)- دلرګـــي ټوټـــه هغـــه منشـــوردی چـــې اخـــري برخـــې یـــې مســـتطیلي اونیمـــایي دایـــره ده او ددایرې شعاع $8m$ اوقطر یې $16\ cm$ دی،نودمستطیل ابعاد $12\ cm$ په $16\ cm$کې دی.

$$دپای\ مساحت = (12x16) + \frac{1}{2}\pi 8^2 = 292.5cm^3$$

عمودي ارتفاع x داخري برخي مساحت = دلرګي دټوټې حجم

$$= 292.5 \times 300 = 87750\ cm^3$$

3

